سراج الحق ببرک زی خُدران ۲۰۱۵/۰۵/ ۲۲

د پښتونولی حقوقي نورمونو او ارزښتونو ایډیالوجیکي بنسټ

پنځمه برخه

پښتونولي د پښتون ولس د توکم او د شخصیت پیژندنې خپل انځور

لیکوال : المانی توکمپوه او د پښتونولی څیړنوال داکټر برنت گلاتزیر

د خبرو سرپیزه :

په ۱۹۶۷ کال کي ما د لومړي ځل لپاره په یوه له احساساتو ډک پوهنیزه کنفرانس کي د ښاغلي پروفیسور ډاکټر کریستیان زیگرست Christan Sigrist (۱) څخه په افغانستان کي پښتانه او د دوی د وچ کلک حقوقي سیستم یا د پښتونولی قانون په اړه زړه را ښکوونکي او هیښوونکي خبري واوریدلي. ښاغلي بشر پوه کریستیان زیگرست دالمان د مونستر په پوهنتون کي د توکمپوهنې او ټولنپوهنې استاد په علمي توګه تشریح کړل، چې په پښتونولي کي په ریښتیني توګه د نورماتیف ژوند طرز یا دول منځ زړي شتون لري. پښتونولي نه یواځي د پښتنو د ژوند طرز دی، بلکي ټولو پښتنو ته یوه طبعي خبره ده، چې پښتونولي د دوی د حقوقي نورمونو نظم، کلتوري ارزښتونو، اخلاقي معیارنو، تولنیزو اصولو او دودیزه نرخونو ترمنځ داړیکو د رامنځته کولو او ساتلو یو سیستم دی سره د دی چې د پښتونولي په اصولو کي د پښتنو په یوه او بله سیمه کي لږ څه توپیر لیدل کیږي، د دې برسیره د پښتونولي دودیزه قانون د نورمونواو ارزښتونو سیستم د پښتنو په سیمو کي د ختیځ لویدیځ وزر څخه مخ په ښکته لار له اباسینه تر ایران پولي پوري خپل اغیزمن شتون او اغیزمن چلښت ثابت کړي دی.

په ۱۹۷۰ کال کي کله چې زه په خپله (څیړنوال) د لومړي ځل لپاره په افغانستان کي د څیړنې په ډګر کي د پښتونولی په اړه په علمي څیړونو، ارزونو او پلټنو باندې بوخت وم، د افغانستان په شمال لویدیځ کي په یوه ډله پښتانه کوچیانو باندې واوښتم، دوی په نولسمه پیړۍ کي د درانې پښتنو له قبیلې څخه راکډوال شوي وو. له دوی سره مي د پښتونولی د ترمینالوژیکو اساساتو، د پښتونولي د توکمي کوډکس ځانګړتیاوو، د پښتونولی د ټولنیزو ارزښتونو او نورمونو په اړه ژوند ی خبري اتري وکړې:

په پښتني تفکر او افکاروکي او د پښتونولي په ادبیاتو کي مهم مرکزي، فلسفي مفهوم د یو غیرتمن سړی دی. یو غیرتمن سړی د یو پیاوړي کلک هوډ څښتن سړی دی، یو غیرتمن سړی د ممتازو، سوچه، شریف، نجیب انسان ټول منل شوي ارزښتناکه صفات او خصوصیتونه په خپل ځان کي لري. د پښتونولی نور مهم مفاهیم ننګ، غیرت، زوړرتیا، جرئت، میرانه، ویاړ،سرښندنه، انساني کرامت ته درنښت، شرافت، حیثیت، وقار، شان شوکت، سرلوړیتوب او د پښتنو افغانانو خپلواکی ده .

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

يو ننګيالي سړی تل خپل ولس ته ښه نوم نشان، شان شوکت، عزت، شهرت، شرف، پت او ننګ راوړي. د دې برخلاف يو بې ننګه سړی خپل ولس ته بې عزتي، بې غيرتي، بې حيثيتي، بې ابرويي، سرټيټوالي، غلامي او بې ناموسي راوړي. پښتنو کي بې ننګه سړی ته د هيڅ چا له خوا په درنه سترګه نه کتل کيږي.

د پښتونولي د فلسفي منځ زړی له همدغه ارزښتناکه انساني ځانګړتياوو څخه جوړو شوي دی. د پښتني د ننګ کانسپټ په بېلا بيلو برخو کي شرم او حيا هم په خپل وارسره ځای لري.

يو توريالی سړی د توری ټول خصوصيات په خپل ځان کي لري. يو توريالی سړی تل د فردي يا د انفرادي اتلولي د کړنو له لارې خپل ځان ښيي. دی په لومړۍ پړو کي د خپل شخصي فردي ننګ او خپلواکۍ لپاره مبارزه کوي. په دويم پړو کي دی د خپلي کورنۍ، خپلي قبيلي او خپل ولس لپاره مبارزه کوي. يو توريالی سړی له دې لارې هڅه کوي په ډاګه کړي، چې دی په خپله قبايلي ټولنه کي يو خپلواک سړی دی او د نورو سره په ټولنه کي مساوي حقوق لري. دی د هيڅ کوم بل زورواکۍ او سرزوروري سړی تر واک،اغيز او لاس لاندې نه دی.

زما (څيړنوال) ارزوني کتنې، تحقيقات او څيړني د ښاغلي زيګرسټ له مفصلو علمي تشريحاتو او توضيحاتو سره په مقايسه کي هيڅ ډول توپير نه درلود. ښاغلي زيګرست د لومړي ځل د پښتونولۍ په اړه په يوه نوې علمي اکاډيميکه چار باندې کار کړي. له ده ورسته ښاغلي الفرد جناته Alfred Janata او ښاغلي ريحانوالدين حسن Reihanodin Hassanپه خپلو توضيحاتو، پلټنواو څيړنو کي د غيرتمن سړی د ننګ کانسپټ په ځواکمن اړخونو باندې ډير علمي څيړنيزه کارونه ترسره کړي دي. دوی په خپلو څيړنو کي دا ثابته کړي، چې پښتونولي د پښتنو ولسي ټولنيز قانون او د ننګ او غيرت کوډکس دی. پښتونولي په خپل وسعي مانا کي د پښتنو ټولمنلي شوي دودنه، دستورونه، رسم او راجونه احتوا کوي.

په ۱۹۸۱ کال کي د پښتونولي په اړه د ښاغلي ويلي ستويلس Willi Steuls مونوګرافيکه څيړنه(پښتونولي او مقاومت، په دولت کي قبايلي ټولنه) په نامه پرته د ښاغلي زيګرسټ د لارښودونکي او لار پرانيستوونکي څيړني څخه ناشوني علمي څيړنه وه، د ده په څيړنه کي مور د پښتونولي په اړه د ټولو علمي، حقوقي پوښتنو ته ځواب موندلی شو.

په ۱۹۸۷ کال کي د ختيځ المان د برلين په همبولت پوهنتون کي ښاغلي Prof. Dr. Lutz Rzehak د پښتونولۍ په اړه يوه بله ستره علمي اکاديمکه څيړنه تر سره کړي ده.

زه (څيړنوال) غواړم دلته په خپله څيړنه کي د پښتونولي هغه اړخ را په ګوته کړم، کوم چې ښاغلي زيګرسټ ديرش کاله مخکې مطرح کړی وو. د پښتونولي دغه اړخ د پښتنو د طبيعت منځړي دی. ده خپله علمي څيړنه کي تر ډيره بريده هڅه کړي، چې خپل فکري تمرکز په پښتني شخصيت او پښتني ايډيالي انځور باندې د ننه څخه وساتم. ما ته دلته دا هم مهمه ده، چې زه غواړم د پښتنو ظاهري، اخلاقي ځانښودنه وڅيړمه، نه د دوی د ورځينې ژوند د کړو وړو نمونې او يا د دوی د کولتوري جوړښتونو ځانګړتياووې څيړم.(۲)

په افغانستان کي اټکل تر شلو ميليونه پښتانه استوګن دي، په ميليونونه نور پښتانه په ازادو قبايلو، پښتونخوا او بلوچستان کي استوګن دي د پښتنو د اصل نسب، د پښتنو قومي ونې سټه، د پښتنو د قومي جوړښتونو پرنسيب په بنسټ او د دوی د توکمي اصلو نسب پوهنې په بنسټ، پښتانه د زرګونه قبيلو ټبرونواو ډلو له لارې يو په بل پسې په سلسله د يو ستر نيکه څخه سرچينه اخلي. له همدې امله پښتانه د نړۍ يوه ستره لرغوني قبايلي ټولنه ګڼل کيږي.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

پښتنو د افغانيت خپل فکري تصورات، افکار او مفاهيم لکه ننګ، ناموس، غيرت، ويار، ميرانه، شجاعت، سرښندنه، د مبارزې ډولونه، جګړييزمورال، خپلواکۍ او نور کلتوري ارزښتونه دافغانستان د نورو لږکيو توکمونو سره هم ويشلي دی. د پخواني شوروي اتحاد د نيواک په وړاندې او د خپلواکۍ د سپيڅلي جګړې او جهاد پر مهال د افغانستان لږکي توکمونه په دې ونه توانيدل، لکه چې پښتانه وتوانيدل، پښتنو په خپل اوږد تاريخ کې د افغانستان د خپلواکۍ د جګړو او مبارزو په بهير کې د نيواکګرو او يرغلګر و په وړاندې په پرله پسې توګه له خپل ځان، له خپل شتون او خپل توکمي افغاني ايډيالي انځورنو څخه په سيستماتيک ډول تر ننه ساتنه او دفاع کړي ده.

۱ .د سرکښو جنګيالو څخه يو دم د عالي او ممتاز جنګيالي جوړيدل

په نولسمه پيړۍ کې د انګرېزانو نړيواله امپراتوري او په شلمه پيړۍ کې د شوروي اتحاد کمونيستي امپراتوري يواځيني نړيوال نيواکګر او زبرځواکي امپراتورۍ نه وې، چې دوی غوښتل افغانستان خپله مستعمره وګرځوي، افغانانو په دې توانيدلي دي، چې ښکيلاګرو ځواکونه او نړيوالي امپراتوري دې ته مجبوره کړي، مخکې له دې چې دوی دا ستر هيواد مستعمره کړي، ښکيلاګرو خپل استعماري پلانونه د خونړېو زخمونو سره ټول کړل او په کومه لار چې راغلي بيرته ولاړل.

په نولسمه پيړۍ کې د انګرېزانو مسوولو سياسي چارواکو، پوځي کارپوهانو او همداسي د انګرېزانو اوسنيو محاصرو تاريخپوهانو او د برتانوي ښکيلاک شننونکو دا مسئله تر اوسه سمه تشريح نشوای کړي، چې څنګه په ډلو ډلو ويشلي سرکښه، بې نظمه، پښتانه جنګيالي په دې وتوانيدل. په ۱۸۴۲ کال کې د افغان انګليس په لومړي جګړه کې د بري او د پرمختګ په لور روان د انګرېزي نړيوالي امپراتوري ځواک مخه ونيسي، دا جګړه په لومړۍ ځل د انګرېزانو په تاريخ کې په سخته تباکوونکي او شرموونکي پوځي ماته باندې بدله شوه. ښايي دا لاندې لاملونه وي، چې دغه سرکښه، بې نظمه او خپل سري جنګيالي يودم د انګرېزانو په سترګو کې په ممتازو او عالي صفاتو ننګيالي او توريالي جنګياليو باندې بدل شول، برتانوي شننونکو فکر کاوه، چې افغانان به د مقدوني سکندر د سرتيرو اولاده وي. ورسته دوی دا ومنله که موږ ووايو، چې موږ ته په جګړه کې اصيلو اريايانو ماتي راکړي او موږ دوی ته جګړه وبايلله دا خبره به موږ (برتانويانو) ته په تاريخ کې لږ د شرم او خجالت وړ وګرځي.

ښاغلي ځيرنوال ليکي، سړی کولې شي د افغانانو دغه نه ماتيدونکي، نه لمنځه تلونکي او تلپاتي ميرانه، پت، ننګ، غيرت،سپيڅلتيا، عالي او ښه خويونه دخپلو ځوانانو مخې ته د مخکښو انسانانو په ځير کيږدي. لکه څنګه په ۵۸ ـ ۱۱۶ ع زيږد کال کې د رميانو د هغې زمان نوموتي تاريخپوه، ليکوال او د روم سناتور ښاغلي تسيتوس کورنيليوس Tacitus Cornelius دا کار وکړو، کله چې جرمنانانو د جګړې په ډګر کې پر روميانو باندې بري وموند، دغې تاريخپوه لږ موده ورسته د جرمنيانو د کرکټر په اړه وليکل، په نړۍ کې هيڅ کوم بل ولس ونشوای کړي، د جرمنيانو په ځير په زړورتيا او وفاداري کې ځان مخکښې وښيي.

په ۱۸۱۵ کال کې د نوموتي انګرېز مورخ افغانېژاندالفنستن د افغانستان ځيرندوي او محقق په خپل معياري اثر کې د (افغانانو سياسي، ټولنيز نظم او ټرون) په نامه چې په خپل وخت کې ځښت ډير لوستل شوي کتاب وه، ده په خپل دې اثر کې د پښتانه،د پښتني قبيلې سياسي او ټولنيز ګډوډ حالت د سکاټلنديانو، يونايانو او د روميانو له جمهوري غوښتونکو له قبيلو سره پرتله کړي دي.

افغان شاعرانو او ليکوالانو هم په خپل وار سره له دغې علمي اثر څخه په خپلو ليکنو او ځيرونو کې ستره ګټه اخيستي ده. دوی د افغانانو د ننګياليتوب، توريالیتوب، ممتازو او دعالي صفاتو انځور ته نور د ميراني ښکلي

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

رنګونه ورکړل. د الفنستن دغه کتاب د افغان رونړ اندو په منځ کې یو ډیر مشهور علمي اثر دی. له بلې خوا اروپایي څېړونکو او لیکوالانو هم له دغه اثر څخه په خپلو څېړونو کې استفاده وکړه او هڅې وکړې تر څو تشریح کړي، چې څنګه برتانویان په افغانستان کې له ستري شرموونکي پوځي ماتې سره مخامخ شول. د دې اثر له لارې د ختیځ او لویدیځ څېړونکو ترمنځ په خپلو کې د افغانانو د شخصیت انځور او ایډیالونو په اړه یو ډیر ښه کلتوري او د ادبي راکړې ورکړې کار پیل شو. افغانانو په ځانګړي ډول د سویلي ختیځ پښتني قبیلو خپل ایډیالونه او د خپل شخصیت انځور په خپل ډودیزه عرفي قانون یا د پښتونولي په قانونغوند کې مدغم یا ذوب کړي دي.

۲ . د افغانیت د بدل په کانسپټ کې د پښتون ولس مخکښ ستر اتل عجب خان اپریدي حماسي کیسه

د پښتنو په کلیوالي سیمو کې د نجونو او هلکانو پالنه او روزنه په ډیره مینه او محبت کې ترسره کیږي. پښتانه ماشومان په کوم ځانګړي سختدریځه سیستم او یا اتوریتي چاپیریال کې نه روزل کیږي. د پښتنو په کورنۍ چاپیریال کې پلار د خپلو ماشومانو لپاره د یو مخکښ ښه انسان رول لوبوي. پلار په کورني چاپیریال کې د یوې جزایي مرجعي رول هم نه لوبوي. د پښتنو ماشومان او تنکي ځوانان اکثراً د لویانو سره په حجرو او ډیرو کې ګډه ناسته پاسته لري. دوی همدلته په مرکو او جرګو کې د خپلو مشرانو څخه د پښتونولۍ ټرمینالوژیک اساسات، اصول، نرخونه ، د افغانیت ځانګړنې، د پښتون افغان په ولس کې د منل شوي نورمونو او ارزښتونو بیلګې زده کوي.

دا یوه ښکاره خبره ده، چې ماشومان د لویانو څخه زده کوي، پښتانه تنکي ځوانان هم د خپلو لویانو څخه زده کړه کوي، چې یو ننګیالی، توریالی، غیرتمن، عزتمن، پتمن او قدرمن مسلمان پښتون افغان سړی څه ډول او په کومه کچه د اتلولۍ ځانګړي ځانګړتیاوې، عالي، ممتاز صفاتو او د عالي ارزښتونو خاوند وي.

د پښتنو په کلیوالي پښتني تفکر کې د یوه توریالی، ننګیالی پښتون روزنه او پالنه د توري سره پیل کیږي. له همدې امله یو پښتون پلار دې ته اړ کیږي، چې د خپلو زامنو سره د درې کلنې او یولسو کلنې عمر په منځ کې جګړیزې لوبې پیل کړي. د دوی په لوبو باندې د نورو تنکیو ځوانانو له خوا تبصري او خبرې اترې هم کیږي. د کلي مشرې سپین سرې ښځې، د کلي مشران او سپین ګیرې سړي په ډیره مینه او دقت سره خپلو ماشومانو ته د پښتنو د نوموتي اتلانو کیسې وراوروي. د هغو اتلانو کیسې، چې دوی د پښتونولۍ اصول، نرخونه، نورمونه او ارزښتونه یې په خپل ژوند کې مراعات او پلي کړي وي او دوی د پښتونولي په ایډیالونو کې روزل شوي پښتانه وي لکه د پښتون عجب خان اپریدي کیسه، عجب خان د پښتنو افغانانو د ویاړلي اوږده تاریخ یوه ستره تاریخي حماسي څېره ده، د عجب خان اپریدي د میړانې او اتلولۍ داستان نه یواځې د پښتنو په محاصرو حماسي ادبیاتو کې ځانګړي ځای لري. بلکې د عجب خان حماسي کیسې د پښتونولي د ا صولو او اتلولي کیسه په یو ښکلي ښه بریالي پښتو فلم کې هم خلکو ته ښودل کیږي.

ښاغلي برنت ګلاتزار وایي، زه دلته پرته له معمول څخه چې د نړۍ په حماسي ادبي کیسې او په جګو ادبیاتو لیکل شویو ناولونو کې د منل شویو ادبي، شعري، ښکلا، پرداز او ډیزاینونو څخه کار اخلیستل کیږي تیرم. زه د عجب خان اپریدي تاریخي کیسه د یو لکچر په څېر تاسو درانه حضور ته وړاندې کوم.

د پیښور په سویل کې د کوهاټ پوځي ادې په سیمه کې د انګریزي امپراتورۍ یوه تر ټولو ستره ټینګه او پخه پوځي اده ګنل کیده.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له همدغي پوځي ادې ځخه د برتانوي امپراتورۍ سرتيري لسګونه کلونه د برتانوي هند او افغاني پولو يا سرحداتو په اوږدو کې د پښتنو قبايلو د پاڅونونو په وړاندې په جګړه کې بوخت وو. په ۱۹۲۳ کال کې د بوستي خيلو په وړاندې د انګرېزي امپراتورۍ پوځي عمليات پيل شول. بوستي خيل د کوهاټ په قبايلي سيمه کې د اپريدي قبيلې يوه وړه ځانګه ده. د پوځي عملياتو په بهير کې انګريزي سرتيري د بوستي خيلو قبيلي کورنو ته ورننوتل. انګرېزي سرتيرې د پوځي عملياتو په بهير کې پښتني ښځو ته ورنږدې شوي وو . چې په هر ډول ورنږدې شوي وه، انګرېزانو د عملياتو په ترڅ کې د اپريدي د بوستي خيل قبيلې بې ناموسي کړې وه. د پښتنو کورونو ته د انګرېزي سرتيرو ننوتل، دغې ناوړه عمل د اپريدي په قبيله کې د انګرېزانو خلاف د پاڅون او د بدل چيغه ګده شوه . ځو اوونۍ ورسته د اپريدي د بوستي خيلو قبيلې درې تنو ځوانانو يو عجب خان او د ده دوه نور نږدې ملګري، سر بيره پر دې چې د انګرېزي افسرانو د بنګلو او کورونو ځخه ځو ټينګ امنيتي کمربندونه را تاو شوي هم وو، برېد وکړ. د بوستي خيلو درې واړو ځوانانو د يوه انګرېزي افسر لور په نامه د Molly Ellis مولي ايلس له ځانه سره تيرا ته يرغمل بوتله په دغه برېد کې درې واړه سړي بې له دې چې وپېژندل شي په تيښته هم بريالي کيږي، دوی د پيغلې انګرېزۍ نجلي سره د اپريديانو په سيمه کې د خوښي او خوشحالي ډزې کولې او ورسره د بدل اخيستلو لاريون ترسره کاوه. همهاله په کوهاټ، دهلي او لندن کې د پېښې په اړه بېړنۍ ناستې يا کريځناستې راوبلل شوې، له يوې خوا په ګرده نړۍ کې نړيوالو د اخبارونو له لارې د يرغمل شوي ښځې سره خواخوږي ښودله کيده، له بلې خوا به دوی په ډېر تمسخر،پيغور او له خوښيو په ډکو جملو کې ليکل، چې تر اوسه هيڅ چا د انګرېز زمري غاښ داسې نه وه ورمات کړي، لکه چې افغانانو ور مات کړو. د اپريديانو پر سيمه باندې پوځي عمليات منع شوي وه، ځکه چې پوځي عمليات به د پيغلې نجلي ژوند او امنيت له جدي ګواښ سره مخامخ کړي. انګرېزانو د FCR تورقانون له مخې اپريدي قبيلې ته د نجلي د يرغمل نيول په اړه ډېرې سختې ډلې پيزې او د بشريت ضد سزاګانې ور واورولې.

په همدې بهير کې يوه بله روغتياپاله انګرېزه ښځه د وسله والو ساتونکو پرته په پښو د اپريديانو سيمو ته ورغله. دغه انګرېزه روغتياپاله په دې وتوانيده، چې د عجب خان سره ووينې او دی يې د يرغمل شوي نجلي بېرته خلاصون ته وهڅولو. کله چې ميرمن Molly Ellis په پښتني ننګ، امن او عزت کې سمه سلامته، بې تکليفه بېرته خپل کورته راستانه شوه. انګرېرانو د اپريدي قبيلې ځخه د عجب خان نيولو او دوی ته د ور تسليمولو غوښتنه وکړه. د اپريديانو قومي جرګه د پېښې په اړه د يوې ګراني غوښتنې، پوښتنې او ګواښمن حالت سره مخامخ شوه. د عجب خان نيول او انګريزانو ته ورسپار ل، داسې يو عمل د پښتونولي د قانون خلاف يو عمل دی. اپريديان پوهيدل او مجبور شوي وو، چې د انګرېزانو د انتقام يا غچ اخيستلو ګواښونه جدي ونيسي. ځکه په ۱۹۱۹ کال کې انګرېزي جنګي الوتکو ځو ځلې د پښتنو کلې او کورونه په ډېره بېرحمې سره ډېر سخت بمباري کړي وو.

د عجب خان د خپلو هيوادوالو په سترګو کې خپل ميرانتوب، ننګياليتوب، بدل، د پښتي اتلولي فرض او مسوولیت ادا کړو، دی بيا په خپله خوښه د افغانستان شمال ته کډوال کيږي. په ۱۹۶۱ کال کې عجب خان په خپل طبعي مرګ ومړ او دی په ډېر عزت او درنښت سره خاورو ته وسپارل شو د عجب خان تګ د افغانستان شمال ته، ده له دې لارې خپله قبيله او خپل ولس د انګرېزانو له ويرونکې سزاګانو او جزايي پوځي عملياتو ځخه وژغورل. په دغه کيسه کې مهم تکي په دې کې نغښتي دی، د عجب خان خپل ميرانتوب ،ننګياليتوب او غيرتمنتوب دی دې ته اړ کړو، چې دی د خپل ژوندانه تر ټولو خواږو، درانه، ګران او د ته له ټولو ارزښتمن شيانو ځخه تير شي، تر ځو عجب خان خپل قام د دښمن د مرګونې ګواښونو ځخه خوندي ساتلي او يا وژغورلي وي. دا لاندې هغه ارزښتونه دي چې هره پښتني قبيلې يې خپل هر يو ميرنې او اتل وګړي ته د ګواښ پر مهال په وړيا توګه ور ډالۍ کوي، لکه د سرخوندیتوب، ټولنيز امن، مادي او معنوي مرسته او ساتنه. کله چې د پښتنو د يوې قامي جرګې يا محکمې له خوا يو سړی ته د ګدې بارولو امر وشي، يا کله د کلي يا د قبيلې د جرګې له خوا پريکړه وشي، چې دغه سړی دې نوره

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

د کلي څخه خپله کډه بارکړي، دغه سزا د يو پښتون په ژوند کي تر ټولو سخترينه او بدترينه سزا ګڼل کيږي. د تعجيب خبره دا ده، چې عجب خان په خپله خپل ځان له يوې داسي سختي سزا او جزايي حالت سره مخامخ کوي. په دغه دود پاله ميرني ويښ پښتون ځلمي کي دومره اخلاق، وجدان، ضمير، غيرت او جرئت موجود وو، چې دی د خپل ولس د ولسي جرګي د پريکړي پرته په خپله خوښه کډه کيږي. دی له دې عمل سره خپل ولس ته د خپل ژوند تر ټولوستره انساني قرباتي ورکوي.

د اپريدي قبيله مجبوره شوه، انګرېزانو ته د عجب خان د نه ور تسليمولو په بدل کي 42000 روپي ورکړي. د دې برسيره د انګرېزانو د عجب خان کور او کلي د خاوري سره سم برابر کړو.

د عجب خان د ډارماتيکي کيسي پای :

په ۱۹۸۲ کال کي په پښتو او پښتنو ټينګه ولاړه سپين سري ميرمن Ellis Molly د پيښور ګورنر په بلنه او بدرګه پيښور ته راغله. ميرمن ايلس مولي د پيښور څخه د کوهاټ په لور روانه شوه. د انګرېزي ميرمن د هرکلي په لاره کي په زرګونه اپريديان او نورو پښتانه د ښه راغلاست لپاره ولاړ ول.

د نړۍ تاريخ د عجب خان کيسي د نمونې په ډول ليکي، د پښتنو د ارزښتونو جګړې او مبارزې، د پښتنو د ميرانې او غيرت جګړې د پښتونولي د توري او عقل پر کانسپټ باندې عملاً جامې اغوندي. پرته له شکه د انګرېز کولونيالستي ځواک د اپريدي قبيلې ننګ، ناموس، شرم او د ميراني احساس ځښت ډير ژوبل کړي وه. که اپريدي قبيلې انګرېزانو ته د خپلې بې آبې، بې عزتي په بدل کي يو داسي سم حيرانونکي ځواب ورکړي نه واې، نو د ډيرو پښتنو په سترګو کي به د اپريدي قبيله د شرم، بې ننګي او بې عزتي سره مخامخ شوې واې.

که اپريدي ځوانانو په همدغسي يو حيرانونکي عمل لاس پوري کړي نه واې. د انګرېزانو همدغه بې عزته ناړوه عمل د اپريديانو او نورو پښتنو په سترګو کي د شرم او پيغورنو څخه ډک ناوړه چلن واې.

د اپريدي قبيلې له خوا انګرېزانو ته سزا ورکول يو ناشوني کار وو، ځکه دوی په دې برخه کي د انګرېزانو د ځواک په مقابل کي بلکول ناتوانه خلک وو. پښتنو ته يواځې همدغه لاره پاتې وه .تر څو د پښتونولي د بدل په کانسپټ کي د يو په يو بدل واخلي. پښتنه ټولنه کي شرم د کمزوري علامه ده، شرم کمزوري سړی غچ اخيستلو ته هڅوي. کيدې شي شرم او کمزوري د بريدګر سړی د وژولو له لارې بير ته جبران شي. په ځينو مواردو کي دا هم کافي ده، چې شرم او کمزوري د خنداني کولو له لار ې ورته يو ټيټه بيه ورکړل شي.

په دغه قضيه کي بوستي خيلو خپله بې عزتي او شرم په يوه له غيرته ډک بري او ويارِ باندې وارولو، د بوستې خيلو دغه عمل د نورو پښتنو په سترګه کي يوه ځانګړي ځلانده پرکه ورکوونکي او جلا ورکوونکي پيښه ځکه ده، چې يوه سړی د خپلو دوو ملګرو په مرسته د نړۍ يو ستر زبرځواک يا امپراتورۍ ته چلنج ورکړو. تر هر څه د مخه دغې ځانګړي پيښه او انفرادي عمل نه يواځې يو پښتون ته، د هغه قبيلې ته ستر بري او ويارِ له ځانه سره راوړه، بلکې د دغې پيښې د ويا ړونو وړانګې پر درست پښتون ولس باندې ځليږي.

ښايي د انګرېزانو له خوا اپريدي قبيلې ته سزا ورکول ډير سخت او درنده عمليات احساس شوې واې، جرم ته په کتو سره د پښتنو په سترګه کي دغه سزا ډير لږ وه، ځکه د دوی عمليات د انګرېزانو ټول شرم او ټوله بې ننګي يې نه شوه جبران کولې.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

۳ . د يو پښتون د هلوځلو او هڅو موخه خاني که قوماندانې ده

د پښتنو د ميرنتوب د ايډيالونو په انځور کي نه يواځي توره بلکي د عقلانيت يا د عقل شعوري عمل، وړتيا او تولنيز مسوولیتونه هم شتون لري. په خپله خوښه د عجب خان کډوالی يا کډه بارول دا ثابتوي، چې د دغي پښتون سړی په شخصيت کي توره،عقل، شعوري وړتيا او تولنيزو مسوولیتونو عملاً يو ځای په ګډ اتفاق او عمل کړي دی يا همدغه ارزښتناکه ارزښتونه په ده کي هم مهاله يو ځای شوي دي. پښتني تولنه کي يو پښتون د يو داسي له ويارونو څخه ډک عمل په تر سره کولو سره د خان نوم يا د خاني لقب ګټلو لپاره مهم رکنونه يا اصالتونونه پر ځای کړي دي او له ده څخه اوس په افغاني تولنه کي يو ميرنۍ خان سړي جوړيدي شي. دغه ميرنۍخان سړی بايد د يوې سترې او ژورې پوهې خاوند هم وي، دی بايد شعوري وړتيا ولري، تر څو دی د شخړو پر مهال سمې پريکړې او فيصلې وکړي. دی بايد يو تکړه ويوونکي واوسي. دی بايد د پښتونولي د منلي شويو نورمونو او ارزښتونو څخه پالنه او ساتنه وکړي. دی بايد په ميلمه پالنه کي ستر زړه او خلاص لاس ولري. دی بايد اقتصادي بريالیتوبونه ولري. دی بايد دې ته تيار او اماده واوسي، تر څو په خپلو بريالو کي خپلو پلويانو ته، خپلو ميلمنو ته، د پناه او د غوندي ساتنې مستحقو کسانو ته خپله برخه ورکړي.

د خان خبره او د خان مشرتوب د سيمې په تولو غوندو، مرکو، جرګو او د خير ښيګڼې په چارو کي مهم رول، ارزښت او خپل ځانګړي وزن لري. خلک د خان خبر اوري او مني، د خان واک او قدرت د ده د پلويانو په شمير کي محاسبه کيږي، کوم خلک چې د ده په حجره کي تل ډيره دي. دغه خلک بيا له ده سره د شخړو او دعوو د حلولو په بهير کي درږي. خان د دې لپاره راغوښتل کيږي، چې شخړې ته نور د پای ټکی کيږدي، خلک خان د خپل استازي په نامه هر چيري ليږي. خلک د خان څخه دعدالت، برابري او مساوات غوښتونوونکي دي،کله چې خان دغه وړتياووې له لاسه ورکړي، دی بيا د خان نوم يا لقب هم له لاسه ورکوي .

د افغانستان د جګړو په بهير کي خان د جنګي قوماندان له خوا په ډيرو برخو کي شاتګ ته مجبور کړلي شوي دی، ځکه دفعتاً په افغاني تولنه کي نويو راتوکيدلي مشرانو ته اړتيا پيدا شوه، دا مهال مهمه دا وه، چې د پاکستان، ايران او د ګردې نړۍ څخه راراواني وسلو ته، پيسو ته او خوراکي توکي ته لاره ومندل شي. قوماندان مجبور وو، چې د مقاومت د يو تنظيم غړي شي.تر څو دی سلاح او مهمات تر لاسه کړي. ځينو دوديزه خانانو داسي نشو کولي، چې د هر چا څخه وسله واخلي يا ترلاسه کړي. دوی مجبور شول چې بهر ته ولاړ شي .دې سره خانانو په تولنه کي خپل ځای او موقف د نوي را توکيدلي د قوماندانو نسل ته وسپارلو.

خلکو اکثراًقوماندان لکه خانان د خپلو لومړيتوبونو او غوښتنو لپاره وکارول. خلکو د قوماندان جنګي تجربو، تکتيکونو، وړتياوو او لوژيستيکي ځواک ته سر ټيټ کړو. هر مجاهد ځان د يو قوماندان کيدو په لاره کي ليدلو. قوماندان مجبور وو، تل خپله وړتيا او بر لارسي خلکو ته ثابته کړي. د دوی په سر بل کوم عمومي قوماندان نه وو،چې دی د ده په اتوريتي باندې ډده ولګول شي.

سړی کولي شي لږ په زغرده ووايي، چې د افغان شوروي په جګړه کي هر مجاهد د جهاد خپل يو ډول چلولو. په جګړه کي د پښتنو مجاهدينو د جګړو انفراديت دغه ډول د دواړ خواوو پلانووکو (امريکا او پخواني شوروي اتحاد) لپاره يو ستر ستراتيژيک پرابلم وګرځيدو، اند د جګړې ځينې مرستکوونکو، ځيړونکو او شننونکو په خپلو شکونو کي حيران کړل .

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

بناغلي برنت ګلا تزار وايي زما په اند، د مجاهدينو د بري لامل په دې کې نغښتي وو،د مجاهدينو اکثره بې نظمه عمليات د دلامل شول،چې د مقابل لوري د جګړې متخصصين او د جګړې استراتيجستانو ته ګرانه شوه، چې څنګه داسي خلک په جګړه کې مات کړي او يا درانه، سخت زيانونه وروړوي، کله چې د مجاهدينو يو قوماندان په جګړه کې لمنځه تللو، نورو به د ده په ځای د وښه په شان را ښنه شول.

۴ . .شهادت او بريايتوب

پښتانه خپلې پښتونولي ته د يو دول عملي اسلام په ځير ګوري. پښتنو خپل اسلام او اسلاميت ته خپل پښتني افغاني رنګ، خوند او دول ورکړي دی، د افغانان هويت اوس افغانيت اواسلاميت دی. دوی ته دا مهمه نه ده، چې نور د دوی په اړه څه وايي، دوی پوهيږي، چې نورو مسلمان ولسونو هم اسلام خپل رنګ او خوند ورکړي دی. کله چې وهابي سختدريزه عرب جنګيالي د جګړې لپاره افغانستان ته راغلل، دوی د پښتنو په اسلام او مذهبي کړو وړو باندې ګوتنيوکي وکړې، دغه عرب وسله وال وهابي جنګيالي د پښتنو له ډيرو سختو خونړېو غبرګونو سره مخامخ شول. پښتانه دا دعوه لري، چې دوی د لومړۍ ساعت او د لومړي ورځې له صادقو مسلمانانو څخه دي. د پښتنو ستر نيکه قيس عبدالرشيد د اسلام مبين دين مستقيماً د پيغمبر (ص) د مبارکو لاسونو څخه منلي دی. دا مهال اکثريت عربان د اسلام د سپيڅلي دين په وړاندې په جګړه کې بوخت وو.

په افغانستان کې په ږښتني توګه د پښتونولي بنسټيزه ارزښتونه لکه ننګ، غيرت، شرم او توريالیتوب د اسلام د سپيڅلي دين په چوپړ کې واقع شوي دي. په يو څه توپير سره، پښتونولي په خپلو بنسټيزه ارزښتونو باندې لږ څه نور تاکيد کوي. ځکه جګړه په اسلام کې يواځې د ايمان او اسلامي عقيدې د دفاع لپاره جواز لري،نه د فردي ويار لپاره لري.

پښتانه دا مني، چې دا د اسلام مبارک دين دی،چې د دوی د ځواني نارينه کهول،طبقي جګړه ييز روح، مورال په شعوري او عملي ټوګه د دوی خپلو ټولنيزو مسووليتونو ته هم ورګرځولي دی.

د ۱۹۷۹ کال څخه راوړسته کله چې د پخوانۍ شوروي اتحاد پر افغانستان باندې يرغل وکړ او د پښتنو په کليو اوبانډو کې د شورويانو د يرغل په وړاندې د خپلواکۍ جهاد اعلان شو، د پښتونولي ترمينالوجۍ او د پښتونولي اصول د نوي رامنځته شوي اسلامي جنګي لغاتو په وجه قصداً له پامه وغورځول شوه او په شا وتمبول شوه. ځکه دا جګړه له پيله يواځې د پښتنو جګړه نه وه. په دغه پردې او له ناوړينو نو ډکه جګړو کې د پنجابيانو، عربانو او نورو بهرنيانو لاسونه وو.

له همدې امله د افغانستان په جګړه کې نور د پښتونولي د ننګياليانو، توريالیانو، غازيانو او د پښتنو د پښتونولي د قومي اربکيانو له نوم څخه کار نه اخيستل کيدو، بلکې د مجاهد له نومه کاراخيستل کيده، ځکه دی داسلام لپاره جهاد کوي. د افغان کډوالوڅخه د افغان نوم قصداً لري کړي شو او يواځې د مهاجرين نوم ورکول شو. پښتانه په دې پلمه تير يستل شول، چې همداسي محمد (ص) مدينه ته هجرت وکړو. چا چې محاجرينو ته ځای ورکړو، هغوي ته د انصارو نوم وکړل شو. ځوک چې په سپيڅلي جګړه کې ووژل شي، دی د ايمان او د اسلام د دين په لاره کې يو شهيد دی. دی بيا پرته له شکه د خپلو ګناهانو سره جنت ته ځي.

دې ته ورته نورو مذهبي احساساتي هڅونو سربيره پښتانه مجاهدين خپل ځانونه په مينه سره غازيان بولي يا يادوي، پښتانه د خپل نوم سره د غازي نوم خوښوي، غازي په جګړه کې د يو بريالي جنګيالي نوم دی، يو غازي د خپل

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

وطن، ايمان او اسلامي عقيدي لپاره فتحي او فوتوحات کړي. همدا وجه ده، چې توره په خپله د يو بريالي ګټونونکي ويښ احساس سره يو ځای کيږي.

۵ . د خبرو ټولیزه :

د ټولنپوهني پوهې په رښا کې وڅيړل شوه، چې پښتونولي د پښتنو د شخصيت انځور د ننه څخه تفسير او مانا کوي. پښتونولي په ځانګړي ډول ختيځ او سويل پښتانه يې د خپل ټوکم پېژند لپاره استعمالوي. پښتني ايډيالوجی کې توريالیتوب، زړورتيا، مبارزه او د اتلولی توره، د يو پښتون د دوديزه نارينتوب د شخصيت انځور يو اړخ دی. د دې معادل يا د دې په بل اړخ کې يو پښتون ته د عقلانيت، شعوري وړتيا او ټولنيز مسوولیتونه ولاړل دی. لکه د يوې ټولنيزې موضوع په اړه د پريکړې وړتيا درلودل، په خپله ټولنه کې دسخاوت لوی لاس درلودل، د ميلمه ميلمه پالنه، يو محتاج سړی ته پناه ورکول او د هغه د سر او عزت څخه د خپل سر په بيه ساتنه کول، دی بايد د فکري استعداد او توان درلودنکي واوسي، د خپلې ټولنې په ټولو خصوصياتو باندې پوره پوهه ولري، په شخړو او دوعوې کې د يو منصف انسان په توګه منځګړيتوب کول، د سولې او د خيرښګنې چارو ته له خپل جيبه پيسې او بسپنه ورکول، د خپلو خلکو د اوسايني او سوله مل ژوند لپاره هڅې او د خپلو ګرانو وګړو د مادي ژوند او مادياتو غم خوړل دي. په همدې ترتيب د پښتني د توري او عقل په کانسپټ کې پوهه او تجربه خپله ستره ونډه لري، چې کله او څنګه توره ايستل کيږي او کله سوله بايد وشي.

پښتونولي د ختيځو او سويلي پښتنو لپاره د سوليزو خبرو اترو او د يو بل د زغملو کولتوري لار ده. افغانيت د پښتنو د سياسي او ټولنيزو شخړو په حلو فصلولو کې د عدم تشدد معقوله او سمه لار ده. پښتانه د پښتونولي څخه د ژوندانه په ښوونه او روزنه کې، په خپلو منلي شويو حقوقي نورمونو، معيارونو او ارزښتونو کې کار اخلي . پښتونولي د پښتنو د ټولنيزو کړکيچونو په حلولو کې د حل لارښوونکي کرښه او منلي شوي دوديزه قاعده ده. پښتونولي د افغانانو د پاره د پردیو يرغلګرو کولتورنو په مقابل کې يوه دفاعي کرښه ده . پښتونولي د يو سوله غوښتونونکي يا بې وسلې ميلمه لپاره يوه دعوتنامه يا بلنليک دی. ميلمه پالنه د سپيڅلي پښتونولي د خيرښيګنې چارو په ليست کې د ټولو ارزښتونو څخه پاس ځای لري. ميلمه پال پښتون د ميلمه د ميلمه پالنې لپاره خپل ځان تر ورستي کچې پوري په مادي او معنوي برخه کې تاواني کوي. پښتونولي د هر پردي او اجنبي دښمن او د هر يرغلګرو پوځ د ويرولو لپاره او دوی ته د ګوټځندني يا اخطار ورکو لپاره يو ه ځواکمنه علامه ده.

نن نه يواځې د افغانانو په ښارونو کې بلکې په کليو او باندو کې پښتني کولتور او پښتني افغاني ټولنه ډيره سخته ژوبله او ويجاړه شوي ده. د ډيرو پښتنو کورني اړيکې د خپلې ستې او تبر سره پرې شوي دي. ځيني پښتني کورني د خپلواکۍ د سپيڅلي جګړې څخه ورسته تر اوسه بيرته خپلو قبايلي دوديزه سيمو ته ورستني شوي نه دي. دوی په لاروکې د غلو، لاري شکوونکو او ناپيژندل شويو وسله والو له خوا لوټ او چور کړلي شوی. د ځيني پښتنو څخه د يو مخفي پلان له مخې په بې شميره کچه ديني مدرسو کې نوي سختدريځه اسلامپال جوړل کړل شول. د جنګسالارنو د جنګ، جګړو انګيزې او اعمال د پښتنو او د پښتونولي له دوديزه کړو وړو سره هيڅ ډول تړو نه لري. جنګسالارن د خپلو شخصي ګټو، واک او ځواک لپاره جنګيدلي خلک دي، ډيري جنګسالاران د بهرنيو دښمن هيوادو د انټرس لپاره جنګيدل، دغو هيوادونو غوښتل په افغانستان کې خپل واک د وسلو، پيسو او پروپاګندې له لاري نوره غښتلي کړي.

په همدې بهيرکې داسې ښکاريدي، چې د پښتونولي د ارزښتونو په چوکاټ کې په يو ډيره جګه بيه را لويه شوي او رامنځته شوي د انفراديت يا فردي خپلواکي ده ، د پښتنو افغانانو دا ګرانه انفرادي خپلواکي اوس د لمنځه تللو په حال

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کي ده، ښاغلي زيګريست يي هم تايدوي،چي که د پښتنو دغي انفرادي خپلواکي ته پام ونشي د دي ارزښتونود لمنځه تللو مخنيوي نوره ګران شوي دی .

د پنځمي برخي

لمنليک :

۱ . ښاغلي څيرنوال کلاتزار ليکي، ما ته شخصاً په خپله ښاغلي زيګريست د افغانستان په اړه زما د لومړي ځل د سيمه ييزو څيړونو او پلټنو د تشويق لپاره مهم مالومات او لاسوندونه په لاس کي راکړل.

۲ . زه (څيرنوال) په دي باوري يم، ما ته او ټولو پښتنو داخبره جوته ده، چي د پښتونولۍ پت، ننګ، سپيڅلتياووي او انساني ارزښتونه په کلکه د ورستيو څولسيزو د وحشي، بربريري او له ظالمو نو څخه ډک جنګ جګړې سره په مخالفت کي واقع دي. پښتونولي له دغو اوسنيو جنګي او د جنايي جرايمو سره هيڅ ډول ټرو نه لري.

۳ په ۱۹۷۶ کال کي ښاغلي کريستيان زيګرست په خپله د افغانستان د لوی پکتيا خوست ولايت ته تللي هلته د نادرشا کوټ په ولسوالي کي د ځدرانوله خانانو د ببرک خان له کورني له غړو سره د پښتونولي په اړه په څيړونو باندي بوخت ليدل کيږي. په دغه لاندي انټرنيتي پته کي د ده يو انځور او مرکه په الماني ژبه کي لوستلي شي.

http://www.germananthropology.com/cms/media/uploads/4e53c31888fd9/interview_4f06f3b397399.pdf

۴ . د ا لاندي د هغي کتاب نوم دی، چي ښاغلي پرفيسور ډاکټر زيګرست د پښتنو او پښتونولي په اړه ليکلي دی.

Soziologie und Anthropologie 12

Die Pashtunen und ihre Bedeutung für regionale und internationale Konflikte

von

Robert Haag

1. Auflage

Die Pashtunen und ihre Bedeutung für regionale und internationale Konflikte – Haag

schnell und portofrei erhältlich bei beck-shop.de DIE FACHBUCHHANDLUNG

Peter Lang 2012

Verlag C.H. Beck im Internet:

www.beck.de

ISBN 978 3 631 62315

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ